د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

ګڼه: 503

(22 - 27 لیندۍ 1404 هـ ش)

## هند ته د روسیې د ولسمشر ولادېمیرپوتین د سفر اهمیت

---



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

# په دې ګڼه کې لولئ:


- هند ته د روسيې د ولسمشر ولادېميرپوتين د سفر اهميت ........................................ 3
- ډهلي ته د پوتين سفر او د بهرني سياست په برخه کې د هند ستراتېژيکه خپلواکي ..................... 3
- د روسيې لپاره هند ته د پوتين سفر ................................................................. 5
- پر افغانستان هند ته د پوتين د سفر اغېز .............................................................. 6
- پايله ............................................................................................................ 7
- وړانديزونه ................................................................................................... 8
- سرچينې ........................................................................................................ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## هند ته د روسيې د ولسمشر ولادېميرپوتين د سفر اهميت

### سريزه

لکه څرنګه چې نړیوال سیاست د هېوادونو له لوري د اقتصادي بندیزونو د لګولو او پراخېدو، د انرژۍ د انرژۍ د بازار د بې ثباتۍ، د اقليم بدلون، د ګمرکي تعرفو دلوړولو، د لويو قدرتونو نظامي جګړو او سياليو له امله متزلزل شوی، دغه مهال د روسيې ولسمشر وېلادېميرپوتين د روان کال د ډسمبر په څلورمه او پنځمه نېټه هندوستان ته سفر وکړ او ظاهره موخه يې د هند ـ روسيې په درويشتمه کلنۍ سرمشريزه کې ګډون کول وه.

هند ته د پوتين دغه سفر يو تشريفاتي او ډيپلوماتيک ګام نه، بلکې د نړيوالو ستراتېژيکو تحولاتو په رڼا کې د دغو دواړو هېوادونو اوږدمهاله مشارکت بيا تعريف کولو له امله د اهميت وړ دی. دا سفر په داسې يوه حالت کې ترسره شو چې د اوکراين جګړې نړيوال امنيتي سازمانانونه متزلزل کړي، لوېديځو هېوادونو پر روسيې پراخ اقتصادي او سياسي بنديزونه لګولي، د اروپايي هېوادونو د انرژۍ سياست بدل شوی او د ناټو بين المللي امنيتي ـ پوځي سازمان خپل رول لا پراخ کړی. له بلې خوا روسيه هڅه کوي چې د لويديځ او اروپايي هېوادونو له مشارکت پرته اسيايي ـ اروپايي يا يورېشايي چوکاټ رامنځته کړي. چين په سيمه کې د اقتصادي او نظامي ځواک زياتوالي هڅې ګړندۍ کړي او هند هم خپل سيمه ييز او نړيوال رول پراخوي؛ نو په سيمه کې دغو هڅو د سيمې امنيتي او سياسي معادلو ته نوې بڼه ورکړې، هند هڅه کوي له واحد ځواکمن محور سره له بشپړ تړلتيا پرته له بېلابېلو نړيوالو قدرتونو سره متوازني اړيکې وساتي او په ورته مهال روسيه هڅه کوي چې د لوېديځ له د فشارونو سربېره په اسيا کې د ځان لپاره بديل ستراتېژيک او اقتصادي فرصتونه ولټوي؛ دغې موخې ته په کتو يې له افغانستان د متحده ايالاتو له وتلو وروسته اسلامي امارت سره اړيکې بياځلي تعريف کړي او د رسميت پېژندنې مرحلې ته رسېدلې دي.

په همدې پيچلي سيمه ييز او نړيوال چاپيريال کې هند ته د پوتين سفر له امله پوښتنه دا رامنځته کېږي چې دغه مهال هند ته د پوتين سفر د دواړو هېوادونو لپاره څه اهميت لري؟ د روسيې ـ هند پياوړې اړيکې پر اسلامي امارت کومې اغېزې لري؟دا مقاله د همدې اساسي پوښتنو د تحليلي څېړنې هڅه کوي او د دې سفر سياسي، اقتصادي او امنيتي اړخونه به په ژوره توګه وڅېړي.

### ډهلي ته د پوتين سفر او د بهرني سياست په برخه کې د هند ستراتېژيکه خپلواکي

د روسيې ولسمشر ولادېمير پوتين د تېرې پنج شنبې په ماښام د دوه ورځني دولتي سفر په موخه ډهلي ته تللي وو، دغه سفر د هند د لومړي وزير نرېندرا مودي په بلنه ترتيب شوی وه او دا د اوکراين جګړې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

له پیل راهیسي هند ته د پوتین لومړی سفر ګڼل کېږي، دغه سفر د دواړو هېوادونو د ستراتېژیکې ملګرتیا د ۲۵ کلیزې او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ۲۳ دوه اړخیزې سرمشریزې کې د ګډون کولو په موخه ترسره کېږي.[1] له پوتین سره په دې سفر کې د دې هېواد مهم لومړپوړي چارواکي لکه د دفاع وزیر اندري بېلوسوف، د مالیې وزیر انتون سیلوانوف، د کرنې وزیر اوکسنالوټ، د اقتصادي پراختیا وزیر ماکسیم ریشتنیکوف، د روغتیا وزیر میخایل موراشکوف، د کورنیو چارو وزیر، ولادېمیرکولوکولتسف او د ټرانسپورټ وزیر رومان نیکیتین ملګري وو.[2] د پوتین د هرکلي لپاره د هند لومړی وزیر نریندرا مودي هوایي ډګر ته راغلی وو.[3] نوموړي په خپل ټوېټر پاڼه لیکلي وو (هند ته د خپل ملګري، ولسمشر پوتین په هرکلي خوښ یم. هیله لرم چې دغه ماښام او سبا زموږ خبرې اترې ګټورې وي. د هند ـ روسیې دوستي یوه اوږمهاله ملګرتیا ده چې زموږ خلکو ته یې ډېرې ګټې رسولي دي.[4]

کله چې هند په ۱۹۴۷ز.کال له برېتانیا څخه خپلواکي ترلاسه کړه، هڅه یې کړې چې له هیڅ ستر ځواک سره په رسمي او سازماني اتحادونو کې تړل شوی نه وي، دغه هېواد د سړې جګړې په اوږدو کې د بې پلوه هېوادونو په لیکو کې ځان ځای کړ؛ خو په حقیقت کې د ۱۹۶۰ز.کالونو را هیسې شوروي ته یې نږدې کېدل پیل کړل، د سړې جګړې له پای ته رسېدو وروسته هند له متحده ایالاتو سره ستراتیژیکې او پوځې اړیکې ژورې کړې، پداسې حال کې چې له روسیې سره یې خپلې دوستانه اړیکه هم وپاللې.خو د روسیې ـ اوکراین جګړې پیل دا توازن ننګولی دی او د پوتین سفر څرګندوي چې د هند لومړي وزیر نریندرا مودي پلان لري چې د نوي ډیلي سیالې اړیکې په متوازن ډول اداره کړي، پرته له دې چې کومه له هغوی قرباني کړي[5].

د روسیې ـ اوکراین جګړې له امله چې پر اساس یې ناټو ختیځ ته مخه ډېره کړې؛ ځکه چې دوی فکر کوي چې روسیه د اروپا لپاره ستر ګواښ رامنځته کوي، اروپایي اتحادیه چې پخوا په پراخه کچه پر روسي ګازو تکیه کوله، په دې برخه کې یې خبل واردات کم کړي او ژمنه یې کړې چې په دې برخه کې به پر روسیې تکیه کول لمنځه یوسي؛ پر همدې اساس مسکو ختیځو بازارونو ته مخه کړې ده ترڅو په دې سیمه کې د پانګونې او ان د یو شمېر نویو حکومتونو لکه په افغانستان کې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې له لارې دغه زیان جبران کړي. د نورو هېوادونو ترڅنګ هند په دې برخه کې د روسیې لپاره ښه فرصت رامنځته کوي؛ ځکه چې دغه هېواد له یوې خوا په اسیا کې موقعیت لري، د انرژۍ اړتیاوې لري، له سیاسي اړخه د شانګهای د همکاریو سازمان او بریکس ډلې د بحثونو مهم لوبغاړی ګڼل کېږي. دې هېواد د دفاع او انرژۍ په برخه کې له روسیې سره خپل تړاو ساتلی او پیاوړی کړی دی. د اوکراین د جګړې د پیل پر مهال او وروسته، نوي ډیلي د کورني تورم د کمولو او د انرژۍ د امنیت د خوندي کولو لپاره د روسیې پر ارزانه خامو تیلو تکیه زیاته کړې، سره له دې چې له دې جګړې سره یې خپله ناراحتي څرګنده کړې او بیا بیا یې د ملګرو ملتونو منشور او د جغرافیاوي حاکمیت اصولو پر اساس د سوله ییز حل یاد کړی دی [6]. له دې څخه د هند موخه داده چې له یوې خوا د روسیې ـ اوکراین جګړې په اړه روسیه خفه نه کړي او له بله لوري د متحده ایالاتو د خفګان لامل ونه ګرځي؛ ځکه چې هند له متحده ایالاتو سره په بېلابېلو برخو کې پیاوړې اړیکې لري او نه غواړي دغه

اړیکې یې له ستونزو سره مخ شي. هند په دې برخه کې خپله ستراتېژیکه خپلواکي څرګنده کړې او په دې برخه کې یې مقاومت کړی چې کوم لوري وټاکي. په دې سره یې ثابته کړې چې هند حق لري له ټولو قدرتونو سره په داسې شرایطو کې اړیکې ولري چې امنیت او ډیپلوماتیک موقف یې پیاوړی او خوندي وي.

**د هند نظامي اړتیاوې:** هند د خپل امنیتي چاپېریال په برخه کې په ځانګړې توګه د هند ـ پاکستان کړکېچ له امله ځان نا امنه احساسوي، په همدې موخه اړ دی ترڅو د روسیې پرمختللي وسلې ترلاسه کړي. کله چې د ۲۰۲۵ز.کال د پاهلګام ترهګریز برید له امله په پاکستان کې د هند له لوري د سندور عملیات ترسره شوه او په دې عملیاتو کې هند د روسیې دغه مزایلونه و ازمایل او خپلو نیمګړتیاوې یې په نښه کړې؛ نو پر همدې اساس هڅه کوي له روسیې څخه پرمختللي او په عصري تکنالوژۍ سنبالي نظامي وسلې او مهمات ترلاسه کړي؛ نو روسیه چې له وړاندې د دا ډول یوه مارکېټ په لټه کې دی دې هېواد سره ښې اړیکې پالي. له بله لوري له روسیې سره د هند اړیکې د بازدارنده ګۍ په برخه کې هم هند ته اهمیت لري؛ د سندور عملیاتو پر مهال هند پاکستان ته یو سګنال هم ورکړی چې نه یواځې داچې پر پاکستان د پوځي ځواک کارونې توان لري بلکې په سیمه کې یو شمېر امنیتي شریکان لري چې د پاکستان پر وړاندې د هند دریځ جدي ګڼي. د یادونې وړ دی چې هند له روسیې څخه جنګي الوتکې، مزایلونه، هوایي دفاع او نور مهم نظامي تجهیزات واردوي.[7]

**د هند اقتصادي او سوداګریزې اړتیاوې:** لکه څرنګه د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ د تعرفو جګړه پیل کړې؛ نو هند اړ دی چې خپلو صادراتو لپاره بدیل مارکېټونه پیدا کړي؛ د هند د سوداګرۍ وزیر، پیوش ګویل، ویلي چې نوي ډهلي غواړي روسیې ته خپل صادرات پراخ او متنوع ورکړي.د موټرو، برېښنایي توکو، د معلوماتو د پروسس وسایلو، ماشینونو، صنعتي پرزو او خوراکي توکو پلور زیاتول د نوي ډهلي له مهمو اهدافو څخه دي. ښاغلي ګویل زیاته کړې "روسیه د صنعتي توکو او مصرفي محصولاتو لپاره ستره تقاضا لري، چې د هندي کاروبارونو لپاره ګڼ، نه کارول شوي فرصتونه برابروي[8]". په داسې یوه مهال کې چې تازه د امریکا متحده ایالاتو له لوري پر هندي مالونو تعرفې لګول شوې، د پوتین دغه سفر د هند دسوداګرۍ متنوع کولو لپاره پراخ فرصت برابروي؛ د روسیې موخه هم داده چې له هند سره سوداګریزه راکړه ورکړه زیاته کړي؛ ان تر دې چې دغه هېوادونه غواړي د روسیې ـ ایران ـ هند او روسیې – افغانستان ـ هند په مثلثونو سوداګریزه راکړه ورکړه زیاته کړي، دغه اقدام د روسیې د یوریشیایي کولو سیاست او اقتصادي ادغام څخه هم سرچینه اخلي، چېرې چې دغه هېواد غواړي، یوریشیا (اروپایي-آسیایي لویه وچه) یوه ګډه قارهییزه فضا وګرځوي چې پکې سوله، ثبات، متقابل باور، پراختیا او هوساینه حاکمه وي.

## د روسیې لپاره هند ته د پوتین سفر

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**هند ته د روسيې د ولمشر ولادېميرپوتين سفر** د دواړو هېوادونو تر منځ د اوږدمهاله ستراتيژيکو اړيکو په چوکاټ کې ځانګړې اهميت لري. دغه سفر د دفاع او انرژۍ په برخو کې د همکارۍ د پراختيا او ساتلو لپاره فرصت برابروي او روسيه ته اجازه ورکوي چې په هند کې خپل بازار وساتي او د تيلو او انرژۍ صادرات تضمين کړي. په ورته وخت کې، دا سفر د BRICS او نورو څو اړخيزو فورمونو له لارې د دې هېواد ملاتړ ترلاسه کولو زمينه برابروي او د هند د ستراتيژيکي خپلواکۍ پر بنسټ د ملګرتيا اهميت زياتوي. د روسيې اوکراين جګړې له امله په روسيه کې د کارګرو خلاوې رامنځته شوي دي؛ روسيه هڅه کوي چې دغه خلاوې د هندي ګارګرو په مرسته حل کړي. د دفاعي او انرژۍ په برخه کې د همکارۍ ترڅنګ روسيې ته د هندي ګارګرو استول هم د دې سفر په اجنډا کې شامل وو. د روسيې د کار وزارت د وړاندوينې له مخې، تمه کېږي چې دغه هېواد تر ۲۰۳۰ز.کال پورې د ۳،۱ میلیون کارګرانو له کمښت سره مخ شي.[9] هندي کارګران چې په نړۍ کې د تخصص له امله نوم لري کولای شي دغه خلاوې ډکې کړي؛ نو ځکه روسيه غواړي د خپل د کار بازار دروازه د هند لپاره پرانېزي او هڅه کوي د کارګرانو دوديزه او سنتي عرضه چې د مرکزي اسيا له لوري دغه هېواد ته ترسره کېده او ډېری يې غيرتخصصي وه، هند ته بدله کړي. دغه ډول کډوالی نه يواځې داچې د کډوالو پر ژوند مستقيمه مثبته اغېزه کوي، بلکې د هند ـ روسيې اړيکې هم پياوړې کوي.

دغه سفر څرګندوي چې د چين ـ پاکستان ستراتېژيک محور په اړه د هند اندېښنې د روسيې له لوري جدي نيول کېږي، دغه سفر نه يواځې د لويديځو فشارونو او د هغوی د اغېزو لپاره اهميت لري، بلکې د روسيې د ټکنالوژۍ او دفاعي توليداتو لپاره  د دوامداريو همکاريو فرصت پياوړی کوي او هند د يوه خپلواک مارکېټ په توګه دغه هېواد ته تثبيتيږي، سربېره پر دې په ملي کچه هند ته د پوتين سفر هم د اهميت وړ دی او د خپل دريځ د پياوړتيا او خپلو خلکو ته د روسيې او هند د اړيکو پياوړتيا د هغو منفي تبليغاتو پر وړاندې سپر په توګه کاروي چې لويديځ هېوادونه يې د روسيې په اړه منفي تبليغات کوي.

همدارنګه د دې سفر پراساس سيمه ييزو بازارونو ته اوږدمهاله لاسرسی ولري او په اسيا کې خپل اقتصادي او سياسي نفوذ پياوړی کړي؛ دغه سفر نه يواځې د دوه اړخيزو اړيکو پياوړتيا بلکې د نړيوال سياست او اقتصادي ډګر په ستراتېژيکو محورونو کې د روسيې نفوذ پراخوي.

## پر افغانستان هند ته د پوتين د سفر اغېز

داچې اوسمهال د افغانستان اسلامي امارت د روسيې له لوري په رسميت پېژندل شوی او دغه هېواد په سيمه ييز او نړيوال ستېج کې پراخ باور لري له بلې خوا هند هم  د تاريخ په اوږدو کې د روسيې له زاويې افغانستان ته کتلي؛ نو دغه سفر د افغانستان لپاره له سياسي او اقتصادي اړخه د اهميت وړ دی. د سياسي نقطې له نظره روسيه په سيمه د هند يو ستراتېژيک او باوري ملګری هېواد دی؛ کله چې نوموړي له انډيا تېرې سره د افغانستان په اړه وويل( اسلامي امارت په افغانستان بشپړ کنټرول لري او رهبران يې توانېدلي

چې د ترهګرۍ او مخدره توکو په برخه کې د مبارزې په برخه کې بریالي شوي دي او دا یو حقیقت دی چې باید ومنل شي).[10] په هند کې د پوتین له لوري له یوې داسې رسنۍ سره چې نه یواځې په هند بلکې په نورو هېوادونو کې لیدونکی او اورېدونکی لري د نړۍ د یوه رهبر له لوري د اسلامي امارت د پیاوړتیا غږ پورته کول؛ نه یواځې په هند کې د اسلامي امارت په محبوبیت بلکې په سیمه ییزه او نړیواله کچه د اسلامي امارت باور پیاوړی کوي او د هند ترڅنګ نور هېوادونو هڅوي چې له افغانستان سره خپل تعاملات پراخ او په رسمیت یې وپېژني. که په دې برخه کې د پاکستان فکتور ته هم اشاره وشي بده به نه وي؛ ځکه چې دغه هېواد په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان په اړه پراخ منفي تبلیغات کوي؛ نو داچې روسیه په سیمه او نړۍ کې ډېرې باوري شریکان او ملاتړي هېوادونه لري؛ نو د اسلامي امارت په اړه د دې هېواد د ولسمشر مثبتې ویناوې د افغانستان په اړه د پاکستان منفي څرګندونې نفې کوي او هېوادونه د پاکستان په نسبت د روسیې دریځ ته لومړیتوب ورکوي.

له اقتصادي اړخه که د هند او روسیې اړیکې خومره پراخېږي؛ نو پر افغانستان مثبتې اغېزې کوي. که روسیه او هند د مرکزي اسیا او چابهار بندر له لارې سوداګریزه راکړه ورکړه کوي؛ نو د افغانستان له خاورې به ګټه اخلي؛ نو افغانستان به د ترانزېټ په برخه پراخو ګټو ترلاسه کولو سربېره ان په امنیتي او سیاسي برخو کې د دې هېوادونو ملاتړ ترلاسه کړي؛ ځکه چې له امنیت او سیاسي ثبات پرته نور هېوادونه نه شي کولای چې د افغانستان خاوره وکاروي؛ نو لېرې نه دی چې ان په امنیتي او سیاسي برخه کې دغه دوه هېوادونه د افغانستان اسلامي امارت ملاتړ وکړي.

## پایله

هند ته د پوتین سفر د نړیوالو ستراتېژیکو بدلونونو په حساس پړاو کې ترسره شو، چې په کې د اوکراین جګړې، د لوېدیځو بندیزونو، د انرژۍ د نړیوال بازار بدلونونو، د ناټو پراختیا، او د یوریشیا نوې سیاسي معادلې شاملې دي. دغه سفر د هند او روسیې ترمنځ د اوږدمهاله ستراتېژیکو اړیکو د بیا ټینګښت لپاره مهم فرصت رامنځته کړ او څرګنده یې کړه چې دواړه هېوادونه د فشارونو او کړکېچونو په منځ کې د خپلواکو، متوازنو او دوه اړخیزو همکاریو د پاللو او پیاوړتیا اراده لري. هند د خپلې ستراتېژیکې خپلواکۍ په ټینګښت سره وکړای شول چې هم له متحده ایالاتو سره اړیکې خرابې نه کړي او هم له روسیې سره خپلې تاریخي اړیکې وساتي.له بل اړخه، روسیه چې د لوېدیځ هېوادونو په ځانګړې تو ګه د امریکا متحده ایالاتو له پراخو بندیزونو سره مخ ده، د اسیا په ځانګړې توګه د هند په مارکېټونو او سیاسي ملاتړ نوې تکیه کوي. دفاعي، اقتصادي، انرژیکي او کاري ځواک په څلورو برخو کې هند د روسیې لپاره مهم شریک ثابتېږي. دغه سفر د دې څرګندونه کوي چې روسیه غواړي په اسیا کې یو نوی ستراتېژیک محور جوړ کړي او هند په دغه محور کې د مرکزي لوبغاړي حیثیت ولري.د افغانستان له اړخه هم د پوتین دا سفر مثبت بعد لري؛ ځکه چې روسیې د اسلامي امارت په اړه مثبت دریځ څرګند کړی او هند د روسیې له لیدلوري د افغانستان پر اهمیت پوهېږي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د روسيې ـ هند د اقتصادي دهلېزونو پراختيا، د چابهار او مرکزي اسيا له لارې زياتېدونکې سوداګرۍ، د افغانستان لپاره د ترانزيټ، سياسي ثبات او سيمه ييز باور په برخه کې فرصتونه زياتوي.

## وړانديزونه

### د دې تحليل په وروستۍ برخه کې لاندې وړانديزونه کوم.

۱ـ د افغانستان اسلامي امارت ته سپارښتنه کېږي چې د روسيې له مثبت دريځ څخه د نړيوال مشروعيت د پياوړتيا لپاره استفاده وکړي او په ورته وخت کې له هند سره د اړيکو پراختيا لپاره د اقتصادي او ترانزيټي همکاريو اجنډا فعاله کړي، څو د چابهار، مرکزي اسيا او يورېشيا دهلېزونو په اقتصادي بهير کې برخه واخلي.

۲ـ هند، روسيه او افغانستان د ترانزيټي او اقتصادي پروژو لپاره ګډ امنيتي ميکانيزمونه رامنځته کړي، څکه چې سيمه ييزې اقتصادي پروژې يوازې د دوامدار امنيت او سياسي ثبات په شتون کې بريالۍ کېدای شي.

۳ ـ د افغانستان اسلامي امارت د د ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې له خپلو سيمه ييزو شريکانو په ځانګړې توګه له روسيې او هند سره امنيتي همکارۍ زياته کړي؛ ترڅو د دې هېوادونو د باور دزياتېدو پر اساس د سيمې او نړۍ را جلب او هم به د پاکستان د منفي تبليغاتو او فعاليتونو پر وړاندې بازدارنده ګي هم ترلاسه کړي.

## سرچيني

[1] India Today, available at:
[2] Ibid.
[3] The New York times, available at:
[4] Narendra Modi, tweeter, available at:
5 Putin visits India amid Ukraine peace push: What's on the agenda? Aljazeera, available at:
6 Dr. Maheep, Putin's visit to Delhi opens a new chapter of collaborations, European times, available at:
[7] Dr. Maheep, Ibid.
**8 ABC News, What does Vladimir Putin want from his state visit to India and his** meeting with Narendra Modi? Available at: What does Vladimir Putin want from his state visit to India and his meeting with Narendra Modi? - ABC News
9 Aljazeera, Ibid.
10 طلوع نیوز، پوتین: امارت اسلامی کنترل اوضاع افغانستان را در دست دارد، دسترسی انلین: پوتین: امارت اسلامی کنترل اوضاع افغانستان را در دست دارد | طلوع‌نیوز

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پالیسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000 +93780618000